
Dr.Said Afghani



ننګرهار میدیوتیک ( رسنیز کور)
د نشر نیټه : ۳۰ نوامبر ۲۰۱۲ میلادی

# افغان رسنۍ به څنګه پرځان متکي شي




افغان رسنۍ هم دبهرنیو رسنیو غوندې ۲۰۱۴م کال دافغانستان لپاره مهم ګڼي، نه یوازې، درسنیو په برخه کې بلکې په عمومي توګه د هیواد دټولو چارو په اړه ، په تیره چې کورنۍ او بهرنۍ رسنۍ دواړه د۲۰۱۴م کال لپاره بیدربغه تبلیغات کوي. ددې لپاره چې په دغه کال به دافغان رسنیو د خود کفاتوب مسله څنګه وي، ننګرهارمیډیا هاوس یو ګردی میزرابللی و.
په دغه ګردي میز کې دختیزو سیمو دوولس تنو خپلواکو خبریالانو اودژورنالیزم دچارو کارپوهانو ګډون درلود اودامسله یې په نسبتا تفصیل سره وڅېړله . په عمومي توګه دخبریالانونظر داو، چې افغان رسنۍ ځینې ضروري چارې ، چې باید ترسره یې کړي، نه یې ترسره کوي، لکه داعلاناتو پوره




موندل، درسنيو محتوايي اړخ ته ډېرپام اړول، چې له امله به يې خلک اخيستو ته مجبورشي او ورسره درسنيوبنې يا صحافت ته نه پاملرنه، دوی وويل ، دا درې مسلې ډېرمهمې دي، چې کله دلوستونکو باور په خپرونوموجود نه وي، خامخا کتونکي له لاسه ورکوي، چې دا دافغان رسنيو لپاره يو ستر زيان دی.

دميزګډونوالو وړانديځ وکړ، چې د۲۰۱۴م کال لپاره دې هومره تبليغات هم ونه شي، چې ټول ولس په اندېښنه کې واچوي،ځکه چې داکال ښايي، يوازې داقتصادي او سياسي فشارونو کال وي، نه له افغانانو نه دژوندداخيستو کال. ځکه افغان ولس هغه وخت هم له منځه لاړنه شو، چې په هره سيمه کې جلا واکمني وه اوياترهغه وروسته داقتصادي تنګسو وختونه .

داګردی ميز درې ساعته روان واو په ترڅ کې يې دافغان رسنيو دخودکفاتوب يا پرځان بسياينه وځيرل شوه او مهم وړانديځونه په کې مطرح شول.

په درنښت

ننګرهار رسنيز کور

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org

هره ليکنه د ليکوال خپل نظر دی او خپله دليکوال اند ځرګندوی

استفاده از مطالب سايت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم سعيد افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است